VERMONT

Department of Motor Vehicles
*Agency of Transportation*

# Application for *Non-Driver ID* د غیر موټر چلولو ID لپاره غوښتنلیک

**802.828.2000**
**dmv.vermont.gov**

دواړه پاڼي ډکي کړئ یا ستاسی فورمه به بیرته راشي

| | |
|---|---|
| زه (له هر بکس څخه یو چیک کړئ) لپاره درخواست کوم : | ☐ د غیر موټر چلولو Non Driver ID |
| ☐ د اصلي *Real ID Compliant* سره متوافق جواز<br>☐ د امتیاز کارت (غیر حقیقي *(Non-Real ID*<br>☐ پرمختللی (ضمیمه یی) جواز *(EDL)* | ☐ د اصل صدور (1ST) ☐ پته او د نوم بدلون (CHG)<br>☐ تمدید (REN) ☐ تعویض کول ( ورک شوی یا غلا شوی) (REP) |

**د ورمونټ د پیژندني معلومات ـ ایا تاسو کله هم ورمونټ لرلی وو یا اوس لرئ؛:**

د موټر چلولو جواز ؟ ☐بلی ☐نه **که "بلی"، د پیژندني شمیره څنګه چي دا په جواز ،زده کوونکی اجازه لیک، یا د غیرموټر چلوونکي شناخت کارت کي ښکاري، دننه کړئ:**

د ځوانان موټر چلولو جواز ؟ ☐بلی ☐ نه **د ورمونټ لایسنس، اجازه لیک، یا د موټر چلوونکي د شناخت کارت شمیره**

د غیر چلوونکي شناختي کارت ؟ ☐بلی ☐نه

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | | |

**تخلص**

**نوم**

**مستعار نوم**

ایا تاسو د موټر چلولو جواز لرئ چي فی الحال اعتبار ولري یا په دی کال کي پای ته رسیدلی وی ، او د متحده ایالاتو د بل ایالت ، د کولمبیا زون یا د کاناډا د یوی ایالت لخوا صادر شوی وی؟ ☐بلی ☐نه

که هو، په کوم ځای کی صادر شوی دی؟--------------------------------

| د انقضا نیټه | د جواز دول | د جواز شمیره |
|---|---|---|
| | | |

**د هغه ځای پته چیرې چي تاسو خپل پست ترلاسه کوئ (د پست پته)** ـ د سړک شمیره او نوم پکې شامل کړئ (که شخصي بکس لری ،نو لاندې "خپل پته چیرې چي تاسو اوسیږئ" هم ډک کړئ)

| | ښار | ایالت | د پستی کد |
|---|---|---|---|
| | | | |

**د استوګني پته (فزیکي پته)** ـ دا پته به ستاسو په جواز کي چاپ کیږي-

| | ښار | ایالت | د پستی کد |
|---|---|---|---|
| | | | |

**<u>بل مخ بشپړ کړئ!</u>**

**DMV USE ONLY**

| PID: | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ☐ Name CHG (231)<br>☐ DOB CHG (231)<br>☐ MISC CHG (231)<br>POB SEX EYE HT WGT<br>☐ Mail Address (232)<br>☐ SS# CHG (232)<br>☐ Physical ADD (233)<br>ADD CHG DEL | ☐ 220 Create<br>☐ 222<br>☐ 228<br>☐ DOC LOC<br>☐ NNL Photo<br>☐ Temp Issued<br>☐ SSI/SSD<br>☐ VISA<br>USCIS Doc______<br>Voter Registration<br>☐ Yes ☐ No | Issue Date (VT):<br><br>Expire Date (VT): | City & State (OOS)<br><br>Rater # | Renewal (27)<br>Original (27)<br>Duplicate (29)<br>Corrected (29)<br>EDL (33)<br>TOTAL FEES: |

| د تولنيز امنيت شميره*: | د زيږيدو نيټه (مياشت/ورځ/کال | د زيږيدو ځای ( ښار ، ايالت او هيواد): |
|---|---|---|
| | | |

ستاسو د ټولنيز امنيت يا فدرالي پيژندني شميره افشا کول لازمي دي، د U.S.C. 42 § 405 (c) (2) (C) او يا 666 (a) (13) لخوا ورکړل شوي واک لخوا غوښتنه کيږي، او د موټرو د رياست ، د موټرو مالي او د ماشومانو د ملاتړ قوانينو په اداره کي کارول کيږي، ترڅو د داسي قوانينو لخوا اغيزمن شوي اشخاص وپيژني.

که تاسو (1) د امتياز کارت لپاره غوښتنه کوئ؛ (2) د رايي ورکولو لپاره نوم ليکنه نه کوئ؛ او يا (3) او يا که غواړی يوه ليک وراندی کړی چه د ټولنيز امنيت شميري ترلاسه کولی شی، نو دا ساحه خالي پريږدئ..

| جنسيت: ☐ښځينه☐ نارينه ☐نور | د سترګي رنګ: | قد: | وزن: |
|---|---|---|---|

**پوښتني / تصديقونه**

| | |
|---|---|
| 1) ايا تاسو د متحده ايالاتو د اردو تجربه لرونکی ياست او غواړئ چي ستاسو په جواز کي " (Veteran)" چاپ شي؟ که داسي وي، تاسو بايد د ورمونټ سند (DMV فورمه VG-168) ډک کړئ پرته لدې چي تاسو مخکي دا سند وړاندې کړی وي. | ☐بلی ☐نه |
| 2) ايا تاسو غواړئ د بدن اعضا ورکوونکي په توګه راجستر شئ؟ | ☐بلی ☐نه |
| 3) ايا تاسو تصديق کوئ چي تاسو د ورمونټ اوسيدونکي ياست ؟[1] | ☐بلی ☐نه |

| | |
|---|---|
| **اصلي پيژندپاڼه، EDL او د رايي ورکوونکو نوم ليکنه** | که چيرې د موټر چلونکي د امتياز کارت لپاره غوښتنه وکړئ او د رايي ورکولو لپاره راجستر نه ياست نو کولای شی چی دا ممکن دا پوښتنه پريږدئ |
| ايا تاسو د متحده ايالاتو تبعه ياست ؟<br>☐بلی ☐نه | که تاسو د متحده ايالاتو اتباع نه ياست، ايا تاسو د قانوني شتون ثبوت لرئ ؟<br>☐بلی ☐نه ☐ کاروړی نه دی |

**نوم، پته يا نور بدلونونه** که چيرې د رای ورکوونکو د نوم ليکني لپاره د پتې بدلون ته اړتيا وي، لاندې د رايي ورکوونکو د نوم ليکني برخه بشپړه کړئ..

| ايا ستاسو نوم بدل شوی ده؟ | آيا ستاسو د پست پته بدل شوې ده؟ | ايا ستاسو فزيکي پته بدله شوې ده ؟ | نور بدلون: |
|---|---|---|---|
| ☐بلی ☐نه | ☐بلی ☐نه | ☐بلی ☐نه | ☐بلی ☐نه |

که امکان لرئ، ټول پخواني نومونه لکه څنګه چي دوی ستاسو په پخوانيو جوازونو کي ښکاره شوي وو په سمه توګه ليست کړئ.

**د رای ورکوونکو نوم لیکنه:** تاسو به د رایې ورکولو لپاره راجستر شئ پرته لدې چې تاسو لاندې نوم لیکنه رد کړئ. د دې غوښتنلیک په لاسلیک کولو او سپارلو سره، تاسو د موټرو ریاست ته اجازه ورکوئ چه دا غوښتنلیک د بهرنیو چارو سکرتریت ته د رای ورکوونکو د نوم لیکنې موخو لپاره ولیږدوي. دا ممکن دی چې تاسو د راجستر کولو څخه انکار وکړئ. په دواړه حالاتو کې چه رای ورکوی یا انکار وکری، ستاسو د راجستر کولو یا نه کولو پریکړه به محرم پاتې شي او یوازی د رای ورکوونکو د نوم لیکنې هدف لپاره به وکارول شي.

د رای ورکولو او راجستر کولو لپاره، تاسو باید:
1) د متحده ایالاتو تبعه وي؛
2) د ورمونټ اوسیدونکی وي؛
3) د رایه ورکوونکي حلف اخیستی؛ او
4) 18 کلونو یا ډیر عمر کی وی

هر هغه څوک چې د 1 - 3 اړتیاوې یا شرایط پوره کوي، څوک چې د عمومي ټاکنو نیټې یا دمخه 18 کلن وي کولی شي په لومړني ټاکنو کې نوم لیکنه وکړي او رایه ورکړي . د راجستر کولو څخه انکار کول یو تصدیق دی چې تاسو د رای ورکولو اړتیاوې پوره کوئ.

که تاسو په ورمونټ کې د لومړي ځل لپاره رایه ورکوئ نو تاسو باید د رای ورکوونکي حلف واخلئ:

تاسو په رسمي ډول قسم اخلئ (یا اعتراف کوی) چې هرکله چې تاسو رایه ورکوئ یا ستاسی رای د ورمونټ ایالت کومه موضوع کی اړوند وی نو تاسو دا په داسې ډول ترسره کوئ چې ستاسو وجدان قضاوت کوي چې ستاسو رایه ښه او عادلانه ده. لکه څنګه چې په اساسي قانون کې د هیچا له ویرې او خوښې پرته ټاکل شوی.
د لاندې لاسلیک کولو سره تاسو کولی شئ د ځان لپاره تصدیق وکړئ چې تاسو حلف اخیستی دی. او یا که کوم څوک د 18 څخه پورته لری نو دا ستاسو د حلف اخیستلو صحت تصدیق کولای شی.

که ستاسو پته بدله شوې وي، هغه پته لیست کړئ چیرې چې تاسو وروستی ځل د رای ورکولو لپاره راجستر شوي یاست. (که تاسی اوس مهال په مخکیني پته کې د رای ورکولو لپاره راجستر شوي نه وی نو دا برخه بشپړ مه کوی)

| د سړک پته | ښار | مملکت | ایالت |
|---|---|---|---|
| | | | |

☐ ما د رای ورکولو یا د رای ورکوونکو د نوم لیکنې اپډیت لپاره راجستر مه کوئ. زه د رای ورکولو لپاره راجستر کولو څخه انکار کوم، یا زه د هغه شرایط پوره کولاس نشم.

| زه په دې توګه تایید کوم چې په دې فورمه کې موجود معلومات د جزا د قانون په رڼا کې ریښتیا دي. دا اعلامیه د جزا کوډ 23 VSA § 202 او§ 4110 لاندې جوړه شوې ده. د رای ورکوونکو د نوم لیکنې لپاره د غلط (دروغ) غوښتنلیک سپارل لکه څنګه چې 17 V.S.A §2011 § او 42 U.S.C § 1973 gg-10 ذکر شوی د دروغ د جزا تابع دی. | **د غوښتونکي لاسلیک** **د امضا نیټه** |
|---|---|
| د والدین یا سرپرست لاسلیک (که چیرې غوښتونکي د 18 کلونو څخه کم وي). له دې لارې زه د موټر چلولو جواز / د ځوانان موټر چلولو جواز صدور سره موافق یم: زه دا منم چې زما لور / زوی لږترلږه د څرخ تر شا 40 ساعته اضافي روزنه او لږترلږه د شپې موټر چلولو 10 ساعت تمرین ترلاسه کړې دی. | د والدین یا سرپرست لاسلیک د امضا نیټه<br>☐ والدین ☐ قانونی سرپرست |
| د اړیکی شمیره: | بریښنالیک:: |

د ID ډولونه:

- **اصلي ID:** د اصلي ID جواز د صادرولو لپاره فدرالي معیارونه پوره کوي. اصلي ID په سوداګریزو الوتکو کې د الوتنې او د فدرالي کنټرول ځینې تاسیساتو ته د لاسرسي لپاره اړتیا ده (فدرالي محکمې، فدرالي ودانۍ، پوځي اډې)..
- **د موټر چلوونکي د امتیاز کارت (DPC) :** DPC په نښه شوی "د فدرالي پیژندنې لپاره نه" یا "د فدرالي پیژندنې لپاره نه دی" او د اصلي ID سره سم نه دی. د DPC صادرول قانوني سند ته اړتیا نلري چې دا شخص باید په متحده ایالاتو کې شتون ولري یا د متحده ایالاتو تابعیت ولري.
- **ضمیمه یې یا دغیر موټر چلونکي جواز (EDL))**: *EDL* یو ریښتیني شناختي کارت دی چې د متحده ایالاتو اتباعو لپاره د یوه سرحدي کارت په توګه د کاناډا ، مکسیکو ، کارابین یا برمودا څخه د ځمکې یا بحر له لارې بیرته راستنیدو سره اضافي ګټې لري. غوښتن لیک ورکوونکي باید د ورمونټ اوسیدونکی او د متحده ایالاتو تبعه وي.

1. 23 VSA § 4 "اوسیدونکی "په دې معنی چې هر هغه څوک چې په ایالت کې اوسیږي او اراده لري چې دا ایالت د دایمي یا د نامعلومې مودې لپاره د خپل اصلي اوسیدو ځای وګرځوي. د زده کونکو په شمول، مهاجر کارګران چې په موسمي کارونو کې کار کوي، او هغه خلک چې د یوې ټاکلې مودې لپاره د قرارداد په لاندی کار کوي یوازې د دی عنوان لپاره د ایالت اوسېدونکي نه شمیرل کیږی.

**وت**: ټول اصلي پیژندنی (د لومړي ځل لپاره) باید په شخصي توګه د *DMV* دفتر کې غوښتنه وشي. غوښتنلیک باید د غوښتونکي شخصي لاسلیک ولري، او لاسلیک باید په رنګ کې وي. که چیرې غوښتونکی د 18 کلونو څخه کم وي، یوه لیکلي رضایت د

غوښتنلیک ورکوونکي مور/پلار ، قانوني سرپرست، یا هغه څوک چې د متقاضی *loco parentis* (هغه څوک چې د ماشوم پالردمور او پلار مسولیت لري مګر د هغه سره قانوني یا بیولوژیکي اړیکه نلري) په توګه دی ته اړتیا لیدل کیږي.

**اړین اسناد**

نوي غوښتونکي او پیرودونکي چې خپل نوم، د زیږیدلونیټه، د زیږیدلو ځای یا *SSN* کي بدلون راولي باید د دې څلورو کټګوریو لپاره اړین اسناد چمتو کړي. دا اسناد د نوم، *DOB*، *POB* یا *SSN* بدلولو پرته د تمدید لپاره اړین نه دي.

1. **د هویت او د زیږیدلو ځای** - باید د لاندې اسنادو څخه یو چمتو کړئ:
   - معتبرپاسپورټ چه موده یې ختم شوی نه وی
   - د غوښتونکي د زیږیدلو ځای ، واده، د منلو یا طلاق تصدیق شوي ریکارډونه. د اړتیا په صورت کې د دې اسنادو ژباړه هم شامله ده
   - په بهر کې د قونسلګری زیږون راپور (*CRBA*) چې د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت لخوا خپور شوی. (*FS-240*، *DS-1350* یا *FS-545* فورمه).
   - د قونسلګری پیژندني سند چی د مکسیکو، ګواتیمالا (یا کوم بل حکومت چې ورته امنیتي معیارونه او پروتوکولونه د کمیشنر لخوا تاکل شوي) حکومت لخوا صادر شوی.
   - دایمي اوسیدونکي کارت چې معتبر وی او دهغه موده هم ختم شوی نه وی. (فورم *I-551*)
   - د تابعیت د منلو سند چې د *DHS* لخوا صادر شوی (*Form N-550* یا *N*-570 فورمه)
   - د تابعیت سند (د *N-560* فورمه یا *N-561* فورمه) چې د *DHS* لخوا صادر شوی وی
   - د موټر چلولو حقیقي جواز یا شناختي کارت د6-*CFR* و 37 برخې سره سم صادر شوی.

2. **د ټولنیز امنیت معلومات-** تاسو باید د ټولنیز امنیت کارت یا د ټولنیز امنیت اداری څخه یو لیک چمتو کړئ چې دا په ګوته کوي چې تاسو د ټولنیز امنیت شمیره (*SSN*) لپاره وړ یاست.

که ستاسو ټولنیز امنیت کارت شتون ونلري، نو د لاندې فورمو څخه یو یې کارول کیدی شي: د *W-2* فورمه، د *SSA-1099* فورمه، د تادیې استب(نوم ښودل) او *SSN* (لږترلږه وروستي 4 عددونه) (ستاسو نوم باید د ټولنیز امنیت اداره لخوا تصویب شي.) که ستاسو نوم څو ځله بدل شوی وي، نو تاسو به د ثابتولو لپاره باید شواهد چمتو کری. د بیلګې په توګه: د واده یا مدني اتحادیې سند (تصدیق شوی کاپي چې د ښار لخوا صادر شوی وی )، د واده یا د طلاق یا د محکمې د نوم بدلول سند.

3. **3. د ورمونټ استوګنځی او د اوسنی اوسیدو ځای پته -** تاسو باید دوه اسناد چمتو کړئ چې ستاسی نوم او اوسنی ورمونت اوسیدو ځای پته په کې وی چې ستاسو د اوسیدو ځای چه ورمونت کې وښیې..

د مثال په توګه:

- یو پست چې ستاسی اوسني نوم او ورمونټ سړک پته (ښار / ښارګوټی (د *PO* بکس شمیره) په کې وی.
- د عامه خدماتو مصرف بل (د خدماتو پته باید لیست شي)
- د ملکیت مالیه بیل د فزیکي موقعیت سره
- لاسلیک شوی اجاره نامه
- د کور مالکین / د مستاجرانو بیمه (پالیسی/ د ادعا ثبوت)
- • د ورمونت *EBT* یا د ورمونټ *AIM ID* کارت
- د ورمونټ د استوګنې سند.

4. **په متحده ایالاتو کې قانوني حالت (یوازې د اصلي *ID* او *EDL* لپاره اړین دی)-** په ډیرو مواردو کې، د هویت او د زیږون نیټه ثابتولو لپاره اړین اسناد هم په متحده ایالاتو کې قانوني حیثیت رامینځته کوي. بهرني اتباع باید پاسپورت او ویزه، د بهرنۍ ملي راجستریشن رسید (شنه کارت) یا نور قانوني اسناد د تفتیش او نسجه برداری لپاره وړاندې کړي.

## **<u>ضمیمه جواز یا د غیر موټر چلولو جواز (*EDL*)</u>**

د پورتنیو اسنادو سربیره یو EDL د متحده ایالاتو د تابعیت سند ته اړتیا لري.

- د زیږون اصلي سند چې په متحده ایالاتو یا متحده ایالاتو کې د یوې دولتي اداري لخوا صادر شوی وي
- • پاسپورټ یا پاسپورټ کارت چې د متحده ایالاتو د اعتبار وړ وی او موده یې او ختم شوی نه وی
- • د تابعیت سند (N-560 یا N-561). د تابعیت د منلو سند (N-550, N-570/ N-578).
- په بهر کې د زیږون په اړه قونسلګری راپورچی د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت لخوا صادر شوی وی (FS-240، DS-1350 یا FS-545).

**<u>فیس</u>**

- د غیر موټر چلولو ID ، نوی / تمدید - $ 24.00
- د غیر موټر چلولو ID، کاپي کول - $ 20.00
- د غیر موټر چلولو ID ، د SSI کم شوی فیس- $10.00

د SSD / SSI کم شوی فیس (یوازې د غیرموټر چلولو ID): هغه څوک چې اوس مهال د اضافي امنیتي عاید (SSI) یا معلولیت ټولنیز امنیت (SSD) خدمات څخه بهرمند دی د غیر موټر چلولو ID کم شوی فیس خدماتو لپاره هم وړ دی. د دې خدماتو ترلاسه کولو لپاره د SSI یا SSD سند ته اړتیا ده. دا دې د دیپارمنت ته د تایید (ګټې) لیک په لیږلو سره ترسره کیدی شي. د ګټې سند یوه کاپي د ټولنیز امنیت څخه د تلیفون ، پست یا حضوری په واسطه ترلاسه کیدی شي.

**<u>د رای ورکولو لپاره نوم لیکنه وکړئ</u>**

که تاسو و رای ورکولو وړ یاست، نو تاسو به وکولی شئ نن ورځ د رای ورکولو لپاره راجستر کړئ پرته لدې چې تاسو رد کړئ. تاسو په هغه ښار کې د رای ورکولو اجازه لری چیرې چې تاسو په فزیکي توګه استوګن یاست . د ټاکنو په ورځ کس تاسو باید:

- د امریکا تبعه وی
- د ورمونټ اوسیدونکي وی
- 18 کلن وی
- د رای ورکوونکو حلف اخیستلی وی

تاسو د ورمونټ د قانون له مخې "اوسیدونکي " دی که تاسو په ښار کې اوسیږئ، څکه چې تاسو په ښار کې داستوګنې اصلي ځای ساتل غواړئ، او که تاسو په لنډمهاله توګه له ښار څخه بهر تلل نو بیا د بیرته راستانیدو قصد ولری او دا قصد به مو د مداوم په توګه عملی هم کړی.

تاسو باید یوازې یو ځل حلف واخلی. که تاسو دمخه په ورمونټ کې د رای ورکولو لپاره نوم لیکنه کړې وي، تاسو دمخه د رای ورکوونکي حلف اخیستی دی. تاسو دا تصدیق کولی شئ چې تاسو د رای ورکوونکي حلف اخیستی یا دا چې د DMV کارمند کولی شي ستاسو لپاره د رای ورکوونکي حلف مراسم ترسره کړي.

تاسو به په رسمي توګه د رای ورکولو لپاره راجستر نه کیږي تر هغه پوری چې ستاسو د ښار سکرتر ستاسو غوښتنلیک بیاکتنه وکړي ترڅوچې ډاډ ترلاسه کړي چې تاسو و رای ورکولو وړ یاست. منشي به تاسو ته خبر درکړي که ستاسو غوښتنه تصویب شي او تاسو ته به ووایی چې چیرې رایه ورکړئ. که ستاسو غوښتنلیک رد شي نو منشی به تشریح کړي چې ولې تاسود رای ورکولو وړ نه یاست او دا به هم تشریح کړي چې تاسو څنګه کولی شئ د خپل ښار شورا ته د تجدید نظر درخواست وکړئ. که تاسو کومه پوښتنه لرئ، تاسو کولی شئ د بهرنیو چارو وزیر دفتر ته زنګ ووهئ:
:802.828.2363 او یا د <u>https://sos.vermont.gov/elections/voters/</u> ویب سایت څخه مراجعه وکړئ.